EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

ایټالیا

# د بیا ځای پر ځای کېدو په اړه په څه باندې باید وپوهېږي

## د نړیوال خوندیتوب ذینفعان



**یادښت.** دغه بروشور داسې معلومات لري کوم چې ستاسې لپاره مهم دي.
که چېرې داسې څه وي چې تاسې نه پرې پوهېږئ، نو کولای شئ له یوه چارواکي څخه پوښتنه وکړئ تر څو یې درته تشریح کړي.

PASHTO

## منځپانګې


بیا ځای پر ځای کېدل څه شی دی؟ 3

که چېرې تاسې ټاکل شوي یاست، نو کوم هېواد کې به تاسې ځای پر ځای شئ؟ 4

که چېرې تاسې د بیا ځای پر ځای کېدو لپاره ټاکل شوي یاست نو له تاسې د څه شي تمه کېږي؟ 4

که له تاسې سره د کورنۍ غړي وي نو بیا؟ 5

ایا له بیا ځای پر ځای کېدو وړاندې به کومه مصاحبه تر سره شي؟ 5

له بیا ځای پر ځای کېدو وروسته به څه پېښېږي؟ 6

## بیا ځای پر ځای کېدل څه شی دی؟

که چېرې یو هېواد په یوه مهال د نړیوال خوندیتوب لپاره زیات شمېر غوښتنلیکونه تر لاسه کړي او هغه يې مدیریت و نشي کړای، نو بیا نور هېوادونه له هغوی سره په بېلابېلو لارو کې مرسته کولای شي. یوه له هغو لارو څخه چې هېوادونه له یوه بل سره مرسته کوي هغه دا ده چې هغه کسان چې نړیوال خوندیتوب (چې د نړیوال خوندیتوب د ذینفع په توګه هم پېژندل کېږي) په یوه بل هېواد کې ورته ورکړل شوی وي، د هغوی بیا ځای پر ځای کېدل مني. دې ته بیا ځای پر ځای کېدل ویل کیږي.

یوازې هغه کسان چې په تېرو دریو کلونو کې ورته نړیوال خوندیتوب ورکړل شوی وي، هغوی به د بیا ځای پر ځای کېدو لپاره په شرایطو برابر وي.



که چېرې دا وضعیت راپېښ شي، نو بیا کېدای شي تاسې بل هېواد کې بیا ځای پر ځای شئ.
د اروپایي ټولنې یوازې 26+ هېوادونه اوسمهال کولای شي نورو هېوادونو ته د بیا ځای پر ځای کېدو په برخه کې ګډون وکړي.

**مهم! تاسو اوس په ایټالیا کې یاست، کوم چې د اروپایي ټولنې+ یو هېواد دی.**

د اروپایي ټولنې 26+ هېوادونه چې اوسمهال کولای شي د بیا ځای پر ځای کېدو په برخه کې ګډون ولري عبارت دي له: بلجیم، بلغاریا، چیک، جرمني، ایسټونیا، ایرلنډ، یونان، هسپانیا، فرانسه، کروشیا، ایټالیا، قبرس، لاټویا، لیتوانیا، لوکزامبورګ، هنګري، مالټا، هالنډ، اطریش، پولنډ، پرتګال، رومانیا، سلووینا، سلواکیا، فنلنډ او سویډن.

5 "اړوند" هېوادونه او نور هغه هېوادونه چې دا مهال د بیا ځای پر ځای کېدو په پروسه کې ګډون نه لري، عبارت دي له: ډنمارک، ایسلینډ، لیچټنستین، ناروې، سویټزرلنډ.

## که چېرې تاسې ټاکل شوي یاست، نو کوم هېواد کې به تاسې بیا ځای پر ځای شئ؟

چارواکي به پرېکړه وکړي چې څوک بیا ځای پر ځای کېدای شي.

که تاسې د بیا ځای پر ځای کېدو لپاره ټاکل شوي یاست، نو تاسې به یوازې په هغه صورت کې هغه بل هېواد ته ولېږل شئ که چېرې تاسې له وړاندې خپل رضایت ورکړی وي.

**مهم!** تاسې نه شئ کولای دا وټاکئ چې کوم هېواد کې باید بیا ځای پر ځای شئ.

## که چېرې تاسې بل هېواد کې بیا ځای پر ځای کېدو لپاره ټاکل شوي یاست نو له تاسې د څه شي تمه کېږي؟



که چېرې تاسې د بیا ځای پر ځای کېدو لپاره ټاکل شوي یاست او تاسې خپل رضایت ورکړی وي تر څو هغه هېواد ته ولېږل شئ، نو باید تاسې:

- له چارواکو سره همکاري وکړئ او د هغوی لارښوونې تعقیب کړئ
- د سفر تر نېټې پورې په دغه هېواد کې پاتې شئ او چارواکي باید وکولای شي چې له تاسې سره په اړیکه واوسي

## که چېرې تاسې له ځان سره د کورنۍ غړي ولرئ بیا به څه کېږي؟

که چېرې له تاسې سره د خپلې کورنۍ نږدې غړي وي او هغوی هم د نړیوال خوندیتوب ذینفعان وي او تاسې د بیا ځای پر ځای کېدو لپاره ټاکل شوي یاست، نو ستاسې د کورنۍ غړي به هم له تاسې سره په ګډه بیا ځای پر ځای شي، خو په دې شرط چې هغوی هم خپل رضایت ورکړي.

د کورنۍ نږدې غړي دا کسان دي:



- ستاسې مېړه یا ښځه
- ستاسې نا واده شوی شریک کوم چې ورسره ثابته اړیکه لري




- ستاسې ماشوم (تر 18 کلنۍ ټیټ او ناواده شوی).

## ایا د بیا ځای پر ځای کېدو وړاندې کومه مصاحبه هم تر سره کېږي؟



که چېرې له تاسې څخه لا زیات معلوماتو ته اړتیا وي، نو یوه مصاحبه به درته تنظیم شي. دا به پر امنیتي موضوعګانو باندې را ټوله وي. که چېرې تاسې اړتیا لرئ چې دې ډول مصاحبې ته ولاړ شئ، نو چارواکي به له وړایه تاسې ته جزئیات درکړي.

## د بیا ځای پر ځای کېدو پروسه څومره وخت نیسي؟




که چېرې د تاسو لپاره غوښتنه واستول شي چې تاسو به بل هېواد ته انتقال شئ، نو هغه هېواد باید د دې غوښتنې په اړه په یوه تر دوو اونیو کې پرېکړه وکړي.

که غوښتنه ومنل شي، نو هغه هېواد ته به ستاسو لېږد د څلورو اونیو په موده کې تنظیم شي.

تاسي ته به د همدې لېږد په اړه حداقل 1 اوونۍ وړاندې خبر درکړل شي.

که چېرې هغه هېواد دا غوښتنه و نه مني، نو بیا به په دغه هېواد کې پاتې شئ.

## له بیا ځای پر ځای کېدو وروسته به څه پېښیږي؟

که چېرې تاسي کوم بل هېواد کې ځای پر ځای شئ، نو ستاسي د نړیوال خوندیتوب د ذینفعانو حقونه به په اتومات ډول هغه هېواد ته ولېږل شي.

دا بروشور يوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه يا مکلفيتونه نه رامنځته کوي. د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې ادارې (EUAA) د دې موادو اصلي برخه چمتو کړې ده، او د دې بروشور بيا توليد او بدلون يوازې د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو لپاره د EUAA له خوا اجازه لري. EUAA د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو يا کوم بل مسؤل دريم اړخ له خوا په دې بروشور کې د شامل شوو معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتيا، قانونيت يا باورى توب لپاره هېڅ ذمه وارى يا مسؤليت نه مني. نه EUAA او نه هم د EUAA په استازيتوب کوم کس په دې بروشور کې د موندل شويو معلوماتو کارولو ذمه وارى نه لري.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره، 2025